# د ادب کردار

رحمت شاه سايل

**نوټ**

په تېر ۲۹ او ۳۰ تاريخ په پېښور کښې د اکادمي ادبيات له خوا يو دوه ورځنے سيمينار وشو. عنوان ئې ؤ چې د قوم په هم آهنګۍ کښې د ادب کردار. ما دغه مقاله هم په پښتو کښې ليکلې وه او هم دغسې مې واوروله. چونکې په دې مقاله کښې ډېر سوالونه موجود دي. او ماسره بله کومه ذريعه هم نۀ وه سېوا د دې نه چې د ,,پښتون،، لوستونکو ته ئې هم په دې ذريعه ور اورسوم.

ژبې وي او کۀ د ژبو ادب وي. موسيقۍ وي او کۀ مينه وي دا په ټوله نړۍ کښې د يو بل سره هيڅ دشمنانه او نفرت اميز خويونه نۀ لري. دا هغه فنونه او جذبې دي چې ټوله نړۍ د مينې په غېږ کښې غونډه ساتي. د دې فنونو او د غو خوګو جذبو هيڅ قسم سرحدونه نۀ وي. دا هر څه د ټولې نړۍ دپاره د يو بل نه د پوره پوره استفادې دپاره وي. دا فکرونه او خيالونه يو بل ته ورغاړه باسي. دا د علم ذريعې هم دي. د معلوماتو ذريعې هم او د جذبو نه جذبو ته د معنو ورکولو ذريعې هم.

سايل

په ځينې ټولنو کښې يا د ځينې ټولنو په پريم ورک کښې په يو سر آئيډيالوجي وي او په بل سر ئې سائنس يا سائنسي ميکيزم وي. آرټ او ادب ئې ترمېنځه په متوازن فاصله موجود وي. د آئيډيالوجي نه آئيډيالوجيکل اثر قبولوي. او د سائنس نه علم حاصلوي او په دغو دواړو د آرټ او ادب جمالياتي اثر کېږي. درې واړه په خلقو، قامونو او اولسونو خپل خپل اثر کوي.

ادب د ګل جمالياتي بدن ته د ګل په نظر ګوري او سائنس د هغې سائنسي تشريح کوي او آئيډيا ور ته خپل نکته نظر لري. خو د درې واړو اثر په يو بل کېدل بلا امکانات لري. مونږ چې په کومو ټولنو کښې وسېږو هلته د ټولنې د تشکيل تصور هم هغه نۀ دے او د آئيډيالوجي او د سائنس د تصور سره سره د ادب تصور هم هغه نۀ دے ځکه چې ماته کۀ څوک شاعر او اديب وائي نو زۀ پښتون هم يم ژبه مې هم پښتو ده. او ليک او تخليق هم په خپله ژبه کښې په اسانه کولے شم.

زار د پښتو چې ئې ادا ادا تصوير کم پکښې<br>
په بله ژبه کښې وو ډېر ځايول ګران د جانان

زما په نظر کښې ادب حسن دے، مينه ده، خوشبو ده، درد دے او دعا ده. او دا تصورات د ټولې دنيا د سرحدونو نه بې نيازه، د يو قدر مشترک په طور په ټولو انسانانو کښې موجودګي لري. زۀ دا هم وايم چې:

ماشومان کۀ د مشرق کۀ د مغرب دي<br>
د ژړا او د خندا انداز ئې يو دے

د خپل قومي او اولسي درد او تکليف په وخت ما

دغه نکته د سوال په طور هم پورته کړې ده چې:

زۀ د مغرب د هر ماشوم ژړا مشرق کښې اورم
چې د مشرق د ماشوم شور مغرب ته څنګ نۀ رسي

افلاطون چې د خپلې فکري جمهوريې نه شاعر اويستو نو څو صدۍ پس پرې يو پښتون شاعر انديش شمس القمر يو تنقيدي نوټ وليکو:

دا شعر د شعور ډک دا نغمه د زندګۍ غږ
افسوس چې چا دا فن د افلاطون کنډر ته يوړے

زما د خپل تن وجود افغانانو پښتنو کورونه چې ګټې لوټې شو. نو ما د دنيا امن دوستو قوتونو ته آواز وکړو:

اے نړيوالو اے امن دوستو د جنګو پرستو مټ د نيوۀ دے
په ما قيامت دے په ما محشر دے دلته هم زۀ مرم هلته هم زۀ مرم

چې د دې آواز هم هيڅ اثر ونۀ شو. نو په فيصله کن انداز کښې مې امن دوستو خلقو ته يو ګز په لاس کښې ورکړو چې:

د دنيــا د آبــادۍ دعــوې دروغ دي
چې تر څو د پښتنو کورونه وران دي

زۀ پښتون يم. ژبه مې هم پښتو ده. پښتو وئيل او پښتو ليکل مې مجبوري ده. کۀ پکښې وړے يم او کۀ تګړے. خو په دې ويارم هم کوم زۀ هم لکه د نورو مواد د خپل خارج نه اخلم. او زما د خارج د تصور مخ بيا هم زما داخل ته وي او زۀ ئې د خپل داخل نه علاوه د خپلې ټولنې د خلقو داخل ته هم رسول غواړم. زما د قام او اولس ترجماني هم زما د پښتو ادب وظيفه وه او ده او وي به. بلې ژبې شايد په دې حواله لا قلم نۀ دے ګنده کړے چې په تېرو څلوېښتو کالو کښې زما د قام او اولس سره څه وشو؟ زما ټولنه دلته د شپږو زرو کالو يو تاريخ لري. يو وطن لري او يو تاريخي قوميت لري.

زما د ټوليز وطن او ټوليز تشکيل سره داسې چل شوے دے چې زۀ د خپل تشکيل چوکاټ نۀ لرم او د هغې چوکاټ دننه کومه داسې نخښه نخښانه هم نۀ لرم چې په يو سر ئې آئيډيالوجي وي په بل سر ئې سائنس وي او آرټ او ادب ئې په متوازن درميان کښې موجود وي. او په يو بل دې د هغې رنګونه هم پريوځي.

زۀ د خپل ټوليز تشکيل دننه سائنس او آئيډيالوجي خو خود نۀ لرم البته د تضاداتو نه ډک يو وسيع غنے غنے ميدان لرم. د دغو غنو نه کۀ لمن آزاده کړم پښه مې ونيسي. او چې پائنسه ترې آزادوم ګوتې مې وينې وينې شي. زۀ په دغسې ميدان او دغسې غنے غنے تضاداتو کښې تخليق کوم. زما تخليقات مارکيټ نۀ لري. کتاب کلچر نۀ لري. لوستونکے نۀ لري. زۀ به خپل تخليقات لکه د سندرې کمپوز کوم په لوړ آواز به ئې وايم. او خلقو ته به ئې رسوم. دا زما تاريخ دے. چې پرون زما د وطن او ټولنې خلقو د آزادۍ جنګ کوؤ. او فرنګے ئې ويستو نو خپل پښتو، تخليق او تخليق کار ورسره په ميدان ولاړ وو. او چې قيد و بند ته تلل نو زما شاعران هم ورسره روان وو. هغوي د جيل د تورو تمبو دننه هم د زنځيرونو او ذولنو د شړنګ نه سندره پېدا

کړه او د جیـل خانې دننه ئې په داسې انداز ووئیله
چې بهر دغو ټولو غرونو او مېدانونو واورېده:

پــه جیـل خــانــه کښې مـرګے نشتــه
چې د یـارۍ مې توبه ګار نۀ شې مئینه

او یا دا چې:

خـوب وینم عالمه کۀ ئې څوک راکړي معنی
پروت یم سر مې ایښے د خپل یار په زنګانه

او یا دا چې:

زنځیــر لــه شرنګ ورکــه قیــدي جانانه
ما ته د سندرې په شان زما وطن څوک که

فـرنګے لاړو آزادي راغـله. خو نن چې زۀ په کوم دور کښې سـاه اخـلـم د دې درې برخې صدۍ تېره شوې ده. نن هم ماته علاقائي شاعر او ادیب وئیلے کېږي او ژبې ته مې علاقائي ژبه وئیلے شي.

بې شـکه د زرګونو میلونو نه لرې راغلے فـرنګے دومـره مضبوط ؤ چې هغوي دلته د خپل ژوند صدۍ شمېرل شروع کړي وو. دا داسې وخت ؤ چې د فـرنګي په نو آبادۍ کښې نمر نۀ ډوبېدو. د دغسې کامیاب نو آبادیاتي نظامونو تصوراتو د ترقي یافته دنیا په نورو ملکونو کښې چرته چرته یـو نـه یو سکندراعظم هم پیدا کوؤ. او لرې نۀ وه چې د مـفـاداتـو دغـو تصوراتو په دنیا دوه عالمي جـنګـونـه ور اوتیل او دنیا ئې د انسان د ترقۍ او سـائـنـس د نوي تهذیب سره اشنا کړه. د سائنس د رومبۍ تـرقۍ او طـاقـت د اور سـره د ټولې دنیـا انسـان پـه رومبـي ځـل اشنا شو. او نن دا صورت حال دے چې زۀ وایم:

خـدائے خبر ستا نظر زما د نظر ضد ولې دے
مـونږه خو دواړه د بارودو په ډېرۍ ناست یو

نـن هـم زمونږ دانشورې طبقې زمونږ لغړ او بربنډ بې تـعـلیــمــه خـلـقو تـه پـېغور ورکوي چې دنیا آسـمـان ته وختـه او تاسو خپل جهل نور په زمکه اومنډلئ. خو دا د بحث لاندې راوستل ضروري نۀ ګڼـي چې دغـو قوتونو په خپلو وسایلو دغه ترقۍ نۀ دي کړي بـلـکې د دنیـا د قـومونو او اولسونو د وسایلو نه ئې غلاګانې کړې دي او ځانونه ئې پرې آسمان ته رسولې دي.

مـونږ په دې ولې غور او فکر نۀ دے کړے چې زمـونږ کـلچرونه د مادي په ځائې روحاني بڼه لــرلــه. او پــه دې کښې د دې قسـمــه ټګۍ او بد تهـذیبۍ ګنجائش ډېر کم ؤ. زمونږ ادب تـه رِسکن یـو مـعـیـار ورکـوي. خـو بذات خود زمونږ ادب د دغې مـعـیار او هغې درد نه ډک پروت دے کوم چې مـونږ ته رِسکن راپه ګوته کوي. هغه وائي چې یو کـنجوس دولت مند خپل ورک شوے دولت نۀ شي سـنـدره کـولے خـو یـوه پېغلـه خپل ورک شوے محبت سندره کولے شي.

سـوال دا دے چې د نـورو قومونو غلامول او د هـغې د وسـایـلو نه غلاکول یوازې د وسایلو د تاوان خبر نۀ وي. دغه زور زیاتے د خلقو نه د خپل کـلـچـر خـواګه وترورې د هغوي نه خپلې قیصې هېـرې کړي او پـه قدم قدم او ساه ساه د ازیت ناک درد او ویـنـې ویـنـې احسـاس درانه په خپلو زړونو یـوسـي. د ژوند نه ئې مایوسه کړي لکه د ځناورو

ئې یوې کارې ته دننه کړي د چپې خولې په ژوند ئې مجبوره کړي. عزت ئې لوټ شي. خیالونه ئې تباه شي. فکرونه ئې ازغن شي. او زړونو او دماغو ته ئې زنګ ولګي. دغسې خبرې تش د وسایلو د تاوان پورې نهٔ وي ټول اجتماعیت مفلوج شي. هندوستان ته به دنیا د سرو مرغۍ وے. هغه د سرو مرغۍ د فرنګیانو د ګوتو نه اووته او مونږه آخر کار د آزادۍ اعلانونه واورېدل. خو اندېش وائي چې:

زده کړمه استاذه د احساس سبق
ما ته دې ړومبے تکے ډېر ګران ووې

او مونږ په ړومبي سر کښې یو داسې ړومبۍ اجتماعي تېروتنه وکړه چې کوم تاریخ لا پېدا هم نهٔ ؤ د هغې آغاز مو وکړو او خپل تاریخي قومونه او تاریخي ژبې مو نظر انداز کړې او تر ننه پورې زمونږ د ډېرو عزت مندو خلقو عزت نفس په هغو اجتماعي ادارو کښې هم مجروح کېږي د کومو چې دعوې وي چې مونږ قومونه جوړوو. او د ادب او ادیب د فلاح او عزت او عظمت دپاره کار کوؤ.

ادب خو هله د قومونو یا اولسونو ترمېنځه د هم آهنګۍ دپاره کوم کردار وکړے شي چې د هغوي ژبو ته خو د خپلولۍ احساس ورکړے شي. ژبې خو یوازې د شاعر ادیب نهٔ وي دا خو د قومونو او اولسونو وي.

د ابتداء نه چې مونږ د خپل معروض نه کومه په فاصله د ژوند فېصله کړې وه د هغې حقیقي معروض ته اوس هم د رانزدې کېدو امکانات ډېر کم دي خو موجود خو دي خو زمونږ میکیزم تشکیل یا رغونه هغه نهٔ ده. مونږ شاید چې د ژبو ورغاوتو زمانې او حالاتو ته هغه توجه نهٔ ده ورکړې کومه چې پکار وه. مونږ په مینه پېدا کولو کښې کوتاهي کړې ده. یو فلسفي ,,لیوتار،، وائي چې:

,,د جدید سماج نه پس په دریو خبرو غور پکار دے.

(۱) د تېرو پنځوسو کالو نه په سائنس او ټکنالوجي کښې زیات عمل دخل د ژبو او د ژبو د نظریو دے. د کمپیوټر او برقي ذهن دپاره د ژبې انتخاب کول او د دغې ژبې په ذریعه معلومات جمع کول. د مختلفو کارونو دپاره د جدا جدا پروګرامونو انتخاب کول. او د هغې د صنعتي پېداوار مصنوعي مشیني ژبه او مشیني ترجمه د معلوماتو زیاته ذخیره اندوزي او د برقیاتي معلوماتو د بینکونو قائمول. دا او دغسې نورې نورې سرګرمۍ چې په هغې کښې به د ژبې کردار مرکزي وي.

(۲) د برقیاتي ټکنالوجۍ اوسني انقلاب چې په علم کښې کوم بدلون پېدا کړے دے هغه دا دے چې اوس به علم په خپله د خپل ځان جواز نهٔ وي. بلکې اوس علم په پوره ډول د کمرشل قوتونو لاسو ته تلے دے. علم به اوس د شخصیت جز نهٔ وي بلکې د منډۍ مال به وي چې خرڅولے به ئې هم شي او اخستے هم.

(۳) ځنګه چې ټولنې د جدید نه پس دور

تـه داخلېږي. د علم هغه حصه چې کوم برقياتي ذهن هزمولے نۀ شي هغه به په ځائې پاتې کېږي. علم چې پخوا به انساني ذهن ته د رڼا ورکولو ذريعه وه او د شخصيت روښانه کولو دپاره به کېدو اوس به دغه علم د دې دپاره پېدا کولے شي چې د معيشت په منډهې کښې منافعې ته پېش کړے شي. او يا د طاقت د وسلې په طور په استعمال کښې راشي.

زۀ دا نۀ وايم چې د دغسې حالاتو او انقلاباتو سره به ګنې دا ضرورت پاتې نۀ شي چې د هم آهنګۍ پېدا کولو د تصور نه دې انسانان يا خلق يا اداري لاس واخلي. دا هم نۀ وايم چې د ادبياتو رول به ختم شي. خو دا وئيل ضروري ګڼم چې دغه انقلابات به زمونږ په روانو کلچرونو او د علم د حصول په جذبو کښې داسې ورانے پېدا کړي چې مونږ ته به يو ذهني تکليف وي. لکه مونږ د ميډيا د آزادۍ دپاره ډېر کار کړے ؤ. په سياسي سطح هم او په ادبي سطح هم. خو دغه آزادي چې راغله نو ابتداء ئې د هغو خلقو د استحصال نه وکړه په کومو خلقو چې دغه ميډيا چلېده يا روانه وه. تاسو به محسوس کړي وي چې زمونږ ميډيائي کمرشل ازم د دې ملک د هر قوم او هرې ژبې د موسيقۍ د مشرقي درد او سوز نه وزرې وويستې او زمونږ د ملک د هنر او فن سره وابسته خلق ئې چړ ته کښېنول او مونږ ئې د فضول قسم ټاک شوګانو په بيمارۍ اخته کړو. دا ټولې ګوتې او لوبې د هغه چا دپاره وشوې کومو خلقو ته چې به دغسې ادارو رائيلتي ورکوله. بلکې داسې لوبه ئې ورسره وکړه چې ميډيا اوس د هنر او فن خلقو نه پېسې وصولوي. ماته کله کله افسوس وشي کومې سندرې چې په ميډيا کښې زمونږ د غريبو مئينو ترجمانې وې هغه سندرې يا د تنز و مزاح دپاره وئيلے کېږي او يا د اشتهار بازيو دپاره او ميډيا پرې پېسې ګټي.

زۀ اوس هم د اکادمي ادبيات د دې پروګرام په وساطت د دې ملک مقتدرو طبقو ته خواست کوم چې د دې ځائې قامي ژبو ته قامي مقام ورکول د پخوا نه اوس زيات ضروري شوې دي او د اکادمي ادبيات محترم مشر محمد قاسم بګيو صاحب ته عرض لرم چې دلته ډېر خلق لاړۀ راغلۀ چا څه نا څه رول وکړو او چا وخت پاس کړو. اکادمي ادبيات د دې ملک د شاعرانو او اديبانو په نوم او د هغوي د فلاح په نوم جوړه شوې اداره ده بايد چې محمد قاسم بګيو صاحب د شاعر اديب او شعر و ادب د ټول ملک د خلقو د يو آمين او امانت ګر په شان چان بين وکړي او چې چرته چرته د چا سره هم د کومې ژبې د ادب او اديب سره هم زياتے شوے دے د هغې ازاله دې وکړي. او په ژبو کښې په حقيقي معنو کښې اول د هم آهنګۍ پېدا کولو دپاره رول وکړي او د هغې نه پس د ادب د ادبي کار يا رول نه توقع ولري.

زۀ نور هم څه تجاويز لرم خو د هغې دپاره ما اراده کړې ده چې دا به د هغوي سره د خط و کتابت په ذريعه شريک کړم ځکه چې دا د دې خاورې د ټولو شاعرانو اديبانو شريکې مسئلې دي او محمد قاسم بګيو صاحب محترم چې د کومې اداري مشر او سربراه دے د دې حل د هغه په لاس کښې موجود دے. هغه بايد چې داسې څه وکړي چې سبا ور ته هيڅ قسم ندامت نۀ وي.